استاد شهسوار سنگروال ۲۰۱۸/۰۸/۲۴

# مسکو باید د شوروي د مهال، توري اوخونړۍ شیبې راغبرګې نکړي

د روسي په ډله ییزو رسانیو او خپرونوکي په ډاګه شوې، چې مسکو غواړي د افغانستان د ملي پخلاینې کور به وي او له دغه بهیرسره مرسته وکړي. نوځکه خوېې په رسانیو کې د دې خبرې پخلی وکړ او راپوریي خپورکړ، چې مسکو به په راتلونکې کې د یوه کنفرانس د جوړېدو تابیا وکړي او پدې تړاویې یوولس هېوادونو ته د ګډون بلنه ورکړه .
دروسي د بهرنیوچارو وزیرسرګې لاوروف ویلي دي، چې د طالبانو د قطر دفتر ته یې هم بلنلیک استولی دی او طالبانو هم موافقه کړېده، چې د مسکو په کنفرانس کې د ګډون لپاره خپل استازی را ولېږي.
د مسکو لومړی کنفرانس د افغانستان او روسي په ګډو هڅو او مشرۍ جوړشوی وو. ولې اوس داسې برېښي، چې روسي پرته د افغانستان له سلا او مشورې، امریکا او طالبانو ته د ګډون بلنه ورکړې ده ښایي د افغانستان د خواشینۍ یوبل موهم لامل داوي، چې د افغانستان د سولې په تړاوهره غونډه، چې جوړېږي د مدیریت چاري اوغوښنه برخه باید د افغانستان د حکومت وي، دا ځکه، چې افغانستان حکومت ټولې نړۍ په رسمیت پېژندلی او په نړېواله اداره یاني ملګرو ملتو کې رسمي استازی لري.
امریکا چې دافغانستان په خبرهغه بلنه ونه منله په ځغرده یې ووېل،روسیه دافغانستان په جګړه کې دطالبانوملاتړکوي...دافغانستان دبهرنیوچاروزارت هم ورته دریځ لري نوځکه خویې له ګډون نه ډډه وکړه اواعلان یې وکړ،چې نه به ورځي .
روسي چې دغه خبرواورېد،نوبیا یې خپله خواشیني وښوده...اوس روسي ته په کار دی ،چې دشوروي اتحاد له تېروتنونه زده کړه وکړي اوهغه څه تکرارنکړي کوم جنایتونه ،چې شوروي اتحاد وکړل...دساري په توګه دشوروي اتحاد وسله وال بریدته سروربښکاره کوو،چې موږیې پخپل تاریخ کې یوه توره خونړۍ ورځ بولو :

ګرومیکو، ښایي د نېشې په حالت کې له برژنف نه د «ودکا» د شرابو د ښښلو په تړاو پوښتي وي چې ولي روسان د «ودکا» په ښښلو روږدي، دي؟
هغه ورته هم په ډېر ویاړ دغه ځواب ورکړ چې «روسان پرته له «ودکا» نه ژوند نشي کولی، نو ځکه خو دوی ودکا ښښي... نو ده په ځانګړې ډول ټینګار وکړ چې ګني دی هم پرته له هغو نه ژوند نشي کولی.»[1]
هغه مهال چې د مسکو چارواکو وپتېله، چې سرې لښکرې پر افغانستان باندې د یرغل لپاره چمتو کړي، د یوې غونډې په ترڅ کې چې برژنف د تل په څېر داسي د ودکا په ښښلو نېشه شوی و چې ځان یې نشو ټینګولای، خو همدا به یې له خولې وتل چې «کثیف انسان».
ده چې ځان یې نشو کابو کولای پداسي وخت کې دا خبره کوله چې د ګرومیکو تر مشرۍ لاندې چې اوستینوف، اندروپوف او یو شمېر نور هم په غونډه کې حاضر وو، د خبرو په لړ کې چې برژنف قدم وهه او ګرومیکو به هم کله کله له مټ نه ټینګ کړ چې و نه غورځېږي، نو په غوږ کې یې ور وځښوله:
«امین ډېر خطرناک انسان دی، «اولیانوفسکي» چې د نړیوالي اداري مرستیال وه، ده هم په دغه غونډه کې شتون درلود، ده په دې اړه ویلي دي:
«برژنف نږدي وه چې ځو واري وولېږي خو ګرومیکو به بېرته کېنوه، ولې په غوږ کې به یې ورته ویلي نوي اطلاعات مو ترلاسه کړي دي او داسي ښکاري چې امین خومره خطرناک انسان دی؟»[2]
کله چې دغه ډله چې په سر کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند عمومي منشي برژنف وه، دی پرېکړې ته ورسېدل چې په افغانستان به د امین پر وړاندې وسلوال برید کوي.
هغه وو چې:
«د ډسامبر په ۲۴ نېټې د شوروي اتحاد د پوځونو لومړۍ ډله د هوا له لارې افغانستان ته ورسېده.»[3]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لکه ځرنګه چې شوروي په پټو سترګو له خپلې سیاسي وېرې دېته بدې را ووهلې چې په افغانستان پوځي یرغل ته لاره پرانېزي.
همدا رنګه امریکا هم له دې وېرې چې ایت الله خمیني د ایران پادشاهي نظام (۱۹۷۹ کال) چې د امریکا متحد وه ړنګ کړ، خواشیني وه.
که د واشنګټن چارواکي په پهلوي شهزاده ګانو خپه وه، خو مسکو واکمن د ایران «تودي» ګوند ته خواشیني ول چې ځرنګه کولی شي چې له یوې خوا د توده یانو سیاسي هلې ځلې له ګواښ سره مخ نشي او له بلې خوا د «ثور انقلاب» وژغوري؟
دوی دې پرېکړې ته ورسېدل چې پخپل پوځي یرغل به هم د افغانستان نظام وساتي او هم به د ایران اخوندان په دې ووېروي چې د «تودي کمونست» ګوند له ځپلو لاس په سر شي.
دلته دی چې جنرال کریلوف ته دنده وسپارل شوه چې د افغانستان د کړکېچ په تړاو معلومات وړاندې کړي.
نوموړی چې له ۱۹۷۵ کال نه تر ۱۹۷۹ ز کال پورې په افغانستان کې پوځي سلاکار وه د افغانستان د پوځي او سیاسي حالاتو په تړاو د شوروي د بهرنیو چارو وزیر ګرومیکو، د کي جي بي رییس اندروپوف، د دفاع وزیر مارشال اوستینوف لوی درستیز جنرال اګارکوف، د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال کرنینکوف او تورن جنرال اېوانوف ته په یوه غونډه کې بشپړ معلومات وړاندې کړل، موروزوف هم په شوروي سفارت کې (۱۹۷۵ – ۷۹) د کې جي بي د مدیر د مرستیال په توګه کار کوه، د ډسمبر له لومړۍ نېټې نه تر ۲۴ نېټې پورې دا ډول پرلپسې غونډې رواني وې.
په پای کې مارشال استینوف د ډسمبر پر ۲۴ نېټې د ورځې په پیل کې د شوروي د دولتي او ګوندي چارواکو پرېکړه اعلان کړه چې په افغانستان به پوځي یرغل کوي.
همدا لامل وه چې د یوې پوځي ډلګۍ له لېږلو سره جوخت «اېن ۱۲، اېن ۲۲» الوتکو د کابل په هوایي ډګر کې الوتنې پیل کړې، د ګوند غړو اعلان وکړ چې د کابل ښاریان دې خپلو کړکیو ته پردې واچوي چې بېرون ته څه و نه ګوري دا څومره وړه او غولوونکې سیاسي خبره وه چې شوروي سلاکارانو افغان چارواکو ته په غوږ کې اېښې وه او هغو هم په کښو غوړو او پټو سترګو دا ناره راپورته کړه چې پردې واچوئ او د «الارم» له غږولو سره ځانونه عیار کړئ... یانې څه؟ یانې: داچې د شوروي اتحاد یو غولوونکې سیاست!!
شوروي اتحاد، په همدې پلمه د کندهار او شینډنډ په هوایي ډګرونو کې جنګي الوتکې ځای پر ځای کړې او د پنځه زرو په شاوخوا کې وسلوال ځواکونه یې چې په سپکو او درنو وسلو سنبال وه د ډسمبر په ۲۷ نېټه په هوایي ډګرونو کې مېشت کړل.
په همدې ماښام د اوه (۷) بجو په شاوخوا لومړی پر راډیو افغانستان برید وشو او بیا د تاج بېګ ماڼۍ تر اور لاندې راغله.
موږ د مخه وویل چې د امین په ګډون د ګوند او دولت چارواکي مسموم شوي ول.
ماته (لیکوال) د راډیو تلوېزیون یو کمره مین چې صدیق نومېده له «عمر» سره یو ځای د همدې ماښام د شپږو بجو په شاوخوا کې را ته وویل:
موږ چې د غونډې انځورونه او تصویرونه د غونډې پر ځای کې کره کول وموليدل چې د حفیظ الله امین په څېره کې داسې څه برېښېدل چې موږ ته یې داسې اندېښنه پیدا کړه چې دغه تصویر د خپرېدو وړ ندی.
ما د امین صاحب یاور ته وویل چې که امین صاحب ته ووایې چې د کمرې مخې ته راشي او د «خبر» لپاره یو ښه تصویر ترې واخلو.
هغه را ته په ترخه او تریب تندې وویل: که په نیمه پوهېږې کمره دې ټوله کړه او له دې ځایه دې پښې سپکې کړه.
ده داهم وویل:
زه لا د امین صاحب له یاور سره په خبرو کې وم چې د مرکزي کمېټې دوه غړي چې نوم یې ما (ترې وپوښته) خو ده وا نخست په زینه کې را «کولې» شول او ورغړېدل.
د شوروي اتحاد، د هوایي پل په تړاو چې نه یوازې خلکو اندېښنه لرله، چې ګڼي په دغو الوتکو کې ټانګونه لېږدول کېږي. بلکې حفیظ الله امین ته هم دا د اندېښنې وړ شوه چې بېلابېلو سرچینو هم ورته د یوه ګواښ په سترګه کتل، امین لکه د تره کي په څېر دا منلې وه چې یو شمېر روسي پوځونه به ستا امنیت ساتي. ولې وروسته یې چې ولیدل، الوتکې بېړنۍ ښه لري، نو خوشبیني یې په بدبینۍ بدله شوه.
له دې سربېره له یوې خوا امین ته دا هم ویل شوي ول چې ببرک کارمل به مني، کوم څه چې امین ته دغه خبره د منلو وړ نه وه. او له بلې خوا د ده لیدنې او کتنې چې له امریکایي دیپلوماتانو سره ډېرې شوې وې پخپله یې ورته پوښتنې پیدا کړې وې.
دا چې ده په دغې شپه (د جدې شپږمه نېټه) غوښتل یوه تلوېزیوني وینا وکړي، ښایي موخه به یې دا وه چې د شوروي د ډېرېدونکو ځواکونو په اړه خپله اندېښنه په ډاګه کړي. په دې خواشینی وه که ولس له دې خبر شي نو بیا به د ثور د انقلاب ارزښت را ټیټ شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ولي ده ته يې دغه وخت ورنکړ چې دی خپل غبرګون خلکو ته ورسوي، بېهوښه شو او په پای کې ووژل شو.
د ليونيد شبر شين **Leonid shebar shin** د کې جي بي د مرستيال له انده څرګندېږي چې امين د دوی ګټو ته يو ګواښ وه.» امين په دې اند وه چې پر موږ د مصر د جمهور رييس انور سادات کانه وکړي.»[4]
څکه خو د ده په بېهوښۍ کې دوی ګټلي وه چې له يوې خوا به پوځي پرمختګ ته لاره اواره کړي او له بلې خوا به په همدغه حالت کې په ده د شوروي ځواکونو د راغوښتلو سند لاسليک کړي.
د شوروي ځواکونو د رابللو او بريد په اړه ويل کېږي چې ګني، د افغانستان له لوري د تره کي او امين د ۱۹۷۸ کال د ترون پر بنسټ شوی دی چې د ډسمبر په پنځمه نېټه لاسليک شو.
ولې ځني کورنۍ او بهرنۍ ډاډمنې سرچينې دا نه مني. بلکې د فرهنګ په څېر تاريخپوهان په دې اند دي چې: «په افغانستان د شوروي ځواکونو د يرغل او بريد مسئوليت د کارمل پر غاړه دی چې د سرو لښکرو په سيوري کې کابل ته راغی.»[5]
د شوروي پوځ کوم ټولګی ياني د مسلمانانو کنډک او د زينت قطعه چې د امين د غولولو لپاره را دې مخه شوې وه هسې يوه پلمه وه. دا څکه چې د ډسمبر په ۱۳ مې نېټې د روسي ترکستان د پوځي ځواک عمومي قومندان جنرال ماکسيموف خپل مرستيال تورن جنرال توخارينوف ته سپارښتنه وکړه چې پوځونه يرغل ته تيار کړي. که څه هم د جدي له شپږمې نېټې د مخه خالبايف (۲۲ ورځې) وړاندې د عملياتو د پلان لپاره استول شوی وه. ماکسيموف د هوا له لارې ځان ترمز ته ورسوه، څکه چې هلته د څلوېښتمې فرقې پلاز وه او ټول ځواکونه د تيارسۍ په حال کې وو.
کوم پوځي تشکيل چې هلته جوړ شيوی وه، سيمې او نړۍ ته د هېښتيا او حيرانتيا وړ وه او ډېر نامتو پوځي چارواکي چې موږ توخارينوف، جنرال وتکاپوف، جنرال لويانوف، جنرال کرچاکين او نور يادولی شو، دوی په هغو پوځي ټولګيو کې په دندو بوخت وه. لکه را وخله د ديسانت لوا، د راکټ او دافع هوا لوا، د مخابرې، انجينرۍ، لوژستيک او تاميناتو جزوتامونه، هوايي ځواکونه، ترانسپورتي اسانتياوې، او نور جګړه ييز ځواکونه يادولی شو چې په سر کې مارشال سکولوف ټاکل شوی وه.
په پای کې دغو ټولو هوايي او ځمکني ځواکونو د ترمز له لارې چې لومړی شمېر اتيا زرو ته رسېده په افغانستان بريد وکړ.
د شوروي پوځونو د شمېر په تړاو داسې انګېرنې شتون لري چې ګني يوسلو شل زرو په شاوخوا کې ځواکونو (ځني له دېنه ډېره او ځني دغه شمېره لږ ښيي) په افغانستان يرغل وکړ.
الکساندر ليا خفسکي پدې اند دی چې کله دغه ټول شوروي ځواکونه دېته چمتو شول چې په افغانسان ورتويې شي نو بيا:
«هغه ځانګړي ځواکونه چې د تاج بېک د ماڼۍ په شاوخوا کې وو د ګوند او د دولت په مشر حفيظ الله امين يې بريد وکړ او وې واژه.
د ډسامبر په ۲۷ نېټې اندرو پوف د تيلفون په کرښه لومړی کارمل ته د ثور انقلاب د دويم پړاو د برې مبارکي ورکړه او بيا يې د شوروي پراشوټي قطعې ته امر وکړ چې ببرک کارمل ډېر زر کابل ته ورسوي.
... شوروي چارواکو لومړی غوښتل چې کارمل په الوتکه کې ولېږدوي، خو وروسته يې د څو روسي ټانګونو په بدرګه په محاربوي ماشين کې د «شيرګين» تر قوماندې لاندې چې د «الفا» په نوم د استخباراتو يوه قطعه هم ورسره وه کابل ته ورسوه.»[6]
بايد په دې پوه شو چې کارمل د يرغل په سبا له تاجکستان نه د بګرام هوايي ډګر ته په الوتکې کې او بيا يې کابل ته په ټانګ کې ورسوه.
اندروپوف دغه امر په داسې وخت وکړ چې ده ته د حفيظ الله امين د وژلو ډاډ ورکړ شو. (ان تر دې چې مړی د سروري او ګلابزوی لخوا کتل کېږي) او بيا د کې جي بي غړو ته سپارښتنه وشوه چې اوس امين په هغه کنده کې چې د ماڼۍ شا ته کيندل شوې وه ښخ کړي.
عبدالقدوس غوربندي د يوې قطعې د قومندان له خولې چې د پېښو عيني شاهد وه پخپل کتاب «نګاهي به تاريخ...» کې د دغې شپې پېښې داسې کښلي دي چې ګني امين سره بايد داسې شوي وی.:
«د شپې په وروستيو کې عبدالوکيل چې د شوروي پوځونو يونيفورم يې په غاړه وه (صاحب منصبان يې را ټول کړي ول) په سپکو سپورو يې امين د (C.I.A) جاسوس باله. موږ يې هره ګړۍ په مرګ تهديدولو... امين د **C.I.A** په دستور پاکستان سره سازش کاوه.»[7]
دا ډول ډېرې سپکې سپورې د نوموړي له خولې نه وتلې . په پای کې سرو لښکرو د کابل مهمې ستراتيژيکي سيمې ونيولې او پرچميان يې پر ټولو ملکي او پوځي سيمو واکمن کړل.
بوريس ګروموف د شوروي اتحاد د يرغل په تړاو کښلي دي چې: «د شوروي اتحاد پوځي بريد په سبا ببرک کارمل د شوروي تاجکستان له پلازمېنې دوشنبې نه د بګرام هوايي ډګر ته په الوتکه کې ولېږدول شو.»[8]
الکساندر ليا خفسکي د کارمل په اړه کاږلي دي چې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

«ببرک کارمل د بګرام په هوايي ډګر کې د شوروي اتحاد د کماندو په حفاظت کې وه.»[9] دی نه يوازې په بګرام کې د شوروي ځواکونو لخوا ساتل کېده بلکې د کابل په ارګ کې هم د شوروي پوځونو په مينځ کې وه، چې له اشپزانو نيولې تر ساتونکو ټول يې شوروي سرتېري ول.
ببرک کارمل د شورويانو په پېرزوينې او لورېينې ځان په داسې يوه چاپېرېال کې وموند چې د خيالي سوسيالستي ټولنې په خوب کې هم تصور نه کېده. ولې دی په دې نه پوهېده چې د افغان ولس له غبرګون سره به مخ کېږي او ده ته شوروي اتحاد دومره ځواکمن برېښېده چې ګڼې ټوله نړی د شوروي په ولکه کې ده.
د شوروي اتحاد يرغل نه يوازې د افغان ولس له سخت غبرګون سره مخ شو، بلکې نړيوال غبرګون يې هم را وپاراوه. پدغه نړيوال غبرګون کې يو شمېر سوسيالستي هېوادونه هم ول چې د شوروي وسلوال بريد يې وغانده چې مور په دغه لړ کې چين، يوګوسلاويا، رومانيا او آن کيوباد ساري په توګه يادولی شو.
په کابل کې د امريکا سفارت د شوروي يرغل په تړاو د امريکا متحده ايالاتو چارواکو ته خبر ورکړ. د جيمي کارټر د ملي امنيت سلاکار زبيګنيوبريژنسکي چې کله خبر شو نو په ځغرده يې وويل:
شوروي اتحاد، دا ځل خپلې پښې له شړی نه اوږدې کړې. دوی په دې پوهېږي چې د دغه يرغل موخه د شوروي پلوي حکومت ټينګښت دی، چې داسې يوه ستر، ولې له ستونزو ډک يرغل ته يې لاره هواره کړه.
د امريکا متحده ايالات چې د کې – جي – بي له استخباراتي هلو ځلو نه په وېره کې وه، پدې يې خپله خواشيني وښوده چې په افغانستان به د هنګري (۱۹۵۶ ز کال) په څېر ورځ راشي او يا به د چيکيانو په څېر (۱۹۶۸ کال) داسې وځپل شي چې نور به د سر جګېدو نه وي.
ځکه نو تاريخپوهان انګېري چې په افغانستان د شوروي پوځونو يرغل چکوسلواکيا ته ورته دی.
د چکوسلواکيا ولسمشر الکساندر دوبچک (۱۹۶۸) د پراګ د پسرلي په نوم د سياسي رغاونې غږ پورته کړ. ولې شورويانو دېته د ناسيوناليزم يو خوځښت ووايه نو بيا يې د پراګ پسرلی په خزان واړوه.
بريژنسکي له دې سربېره بيا دې ته خوشاله وه چې له شوروي اتحاد به اوس د ويتنام غچ او کسات اخلي کوم چې د امريکا پر ضد مسکو له ويتنام ولس سره مرسته کړې وه.
نوموړي په سر کې هماغه ټېره تګلاره وځارله چې په پټه به يې، په پاکستان کې له افغان کډوالو سره مرسته کوله. خو د کارټر پرېکړه هغه مهال برالا او بر ملا شوه چې په ۱۹۸۰ کال، په مسکو کې د المپيک لوبې تحريم کړې.
دا په اقتصادي او سياسي لحاظ يو لوی ګذار وه چې شوروي اتحاد يې ګوښه والي ته ټېل وهه.
دَ«هارسيون» په اند نور کارټر دغه انديښنه نه لرله چې چې د افغانستان مجاهدينو سره دې په پټه د وسلو او پيسو مرسته وکړي، بلکې بې درېغه يې خپلو هر اړخيزه مرستو ته زور ورکړ.
«د امريکا او عربستان مرستې تر ۱۹۹۱ کال پورې له «۲/۸» ملياردو ډالرو نه زياتې وې.»[10]
د دغو مرستو په لړ کې، يوازې په لومړنيو (۱۹۸۰ – ۸۱) دوه کلونو کې د پاکستان حکومت له امريکې نه د پوځ لپاره (۱/۵) ميليارده ډالره وغوښتل.
امريکا او متحدينو يې د شوروي پر وړاندې هر اړخيزې هڅې پيل کړې. اسلامي هېوادونو په سر کې سعودي عربستان هم پټه خوله کېناست، چينيانو هم خپل غبرګون په ډاګه کړ.
په ټوله کې، د شوروي اتحاد پر وړاندې د امريکا او د هغه د متحدينو دغه انديښنه موجوده وه چې کمونيزم په نړی، په ټېره وروسته پاتې ټولنو په ځانګړې ډول په اسيايي، افريقايي او ان په لاتيني امريکايي هېوادونو کې د پراختيا او پرمختيا پړاوونه وهي.
ستيو کول په خپل کتاب کې ليکلي دي چې: «واشنګټن په شوروي ضد تبه اخته شو چې په پای کې د امريکا او پاکستان تر مينځ د نږدې همکاريو يو نوی پړاو را مينځته شو.
چې دواړه به د خيبر غاښې پر هغه خوا شوروي ته چلېنج ورکړي، لکه څنګه چې يوه پېړی د مخه برېتانويانو پر همدې ډګر باندې تزاري روسي ته چلېنج ورکړی وه.»[11]
د ايران د پاچا محمد رضا (چې پنځوس کاله په سيمه کې د امريکې د سياست ځړی وه) له ماتې وروسته، امريکا په دې(۱۹۷۹ کال) پوه شوه چې د اسيا په دغه سيمه کې د استخباراتو يو مهم مرکز له لاسه ورکړ، غوره يې وګڼله چې پاکستان د ايران ځای ناستی شي.
د ذولفقار علي بوټو له مرګ نه وروسته، د ضياوالحق د واک په مهال د C.I.A او آی – اس – آی ترمينځ اړيکې دومره پراخې شوې چې د تهران تشه يې ډکه کړه.
د امريکا متحده ايالاتو هغسې هم «۱۹» نولس هېوادونو ته يانې د اسيا جنوب لوېديځ او د امريکا ښاخ ته بېلابېل پلاوي ولېږل چې د شوروي د پرمختګ لاره ډب کړه.
خو د امريکا نيکمرغي هغه وه چې شوروي اتحاد په افغانستان وسلوال يرغل وکړ، او دغه يرغل د پاکستان او ايران لپاره هم يو ستر ګواښ وه.
ولې پاکستاني چارواکي په سر کې ضياوالحق په دې اند وه چې د شوروي د بريد ګواښ داسې انځور کړي چې ګنې د سرو لښکرو يرغل تر ډېره بريده د امريکا د متحده ايالاتو ګټې ګواښي، نو بايد له پاکستان سره مرسته وشي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

پاکستان کې د امریکا C.I.A استازي «جان جي ریګان» (۱۹۸۱-۱۹۷۷ کال) د اسلام آباد د غوښتنې په تړاو وايي:
«په دې هکله دا وړاندوينه کېده چې پاکستان د بريژنسکي د څلور سوه (۴۰۰) میلیونو ډالرو د مرستې وړانديز و نه مانه.»[12] دا ځکه چې ضياء ته څرګنده وه چې دغه جګړه امريکې ته ډېره مهمه ده.
همدا لامل وه چې د امریکا متحده ایالاتو چاروکو ته يې په ځغرده وويل:
دغه مرسته د پاکستان لپاره داسې ده لکه په سمندر کې يو څاڅکی. له دې نه وروسته، ۱ ملیارده ډالر زمزمه کېدل خو «ضياالحق هغې مرستې ته ګوته ونيوه چې د امريکا کنګرې د مصر هېواد لپاره (۳) ملیارده ډالره په پام کې نيولې ول، ده په ډاګه وويل: پاکستان ځان د دې مستحق ګڼي. که چېرې له کوم ګواښ سره مخ شي له دې زيات د مرستې تمه لري.»[13]
امریکا د شوروي پر وړاندې غبرګون کې يوازې نه وه بلکې د ده متحدين، د ساري په توګه د برتانيا هېواد د خپل بهرنيو چارو وزير په «۱۵» نېټه (۱۹۸۰ کال) ترکې، سعودي عربستان، اردن او پاکستان ته سفرونه وکړل.
له يوې خوا يې د ګډ دښمن (شوروي اتحاد) پر وړاندې د دوی په سياسي او اقتصادي مرستو غږ وکړ او له بلې خوا يې د هغو افغان کډوالو کمپونه (پېنډغالي) هم وليدل چې د شوروي پوځونو د برید له امله پاکستان ته کډه شوي ول.
له دې نه یوه اونۍ وروسته د جنورۍ په (۲۱) نېټې اسلامي هېوادونو یوه بېړنۍ غونډه را وبلله او په پای کې د کارمل او شوروي پر ضد د جهاد اعلان وکړ.
شوروي اتحاد چې د يو سلو شل زرو (۱۲۰۰۰۰) په شاو خوا کې، خپل ځواکونه په افغانستان کې ځای پر ځای کړل، که څه هم سلاکارانو يې په ملکي او پوځي چارو بشپړ واک درلود ولې بيا هم د افغان ولس له سخت غبرګون سره مخ شول.
که د تره کي او حفيظ الله امين د واک په مهال د کورو کلي يو خان او ديني عالم د شپې په تياره کې له منځه وړل کېده خو د کارمل او د شورويانو د قدرت په وخت کې ټول هغه کلي د روسانو د بمبارۍ له کبله له منځه لاړل ان د کلو جغرافيه يې هم په بل مخ واړوله.
د کارمل د حکومت چارواکي د شوروي اتحاد په سياسي غلامۍ کې شکېل ول. يو شمېر چارواکي دومره د سوېتيزم په پلوۍ روږدي شول چې د افغانستان د ملي هويت پر ځای يې انترناسوليزم غوره ګاڼه.
هغه د ببرک کارمل مشهوره خبره ده چې په خپله ژبه به يې په ډېر وياړ دغه خبره کوله چې:
«معياری وطنپرستي در سويتيزم است.»
مانا دا چې هغه افغان رښتينی «وطنپرست» دی چې شوروي پرسته وي.
د شوروي اتحاد د ځمکنيو او هوايي بريدونو پر وړاندې د افغانستان د خلکو ملي پاڅونونه او نړيوال غبرګونونه تر دې بريده ورسېدل چې په پای کې د جنورۍ په (۷) نېټې د ملګرو ملتو د امنيت شورا ديارلسو (۱۳) غړو غونډه وکړه، له شوروي اتحاد او ختيځ الماني نه پرته د نورو هېوادونو استازو په ټينګه له شوروي نه وغوښتل چې خپل پوځونه له افغانستان نه وباسي.
د جنورۍ په ۱۴ خوارلسمي نيټې د ملګرو ملتو عمومي غونډې د ۱۸۰ څخه ۱۰۴ تنو د رايو په اکثريت پرېکړه وکړه چې شوروي اتحاد بايد ډېر ژر خپل ځواکونه له افغانستان نه بېرون کړي.
افغان ولس له يوې خوا د شوروي اتحاد د بريدونو او له بلې خوا نړيوالو غبرګونونو دېته اړ کړ چې له هېواد نه کډه شي. هغه وه چې يوازې په پاکستان او ايران کې د پنځه ملیونو په شاوخوا کې افغان کډوال ډېره شول، د وسلو او پيسو له لارې د نړۍ ډېرو هېوادونو د مرستې ټېر وواهه چې مور امريکا، د لوېديځې اروپا هېوادونه، چين او جاپان، عربستان، مصر، ترکې، د خليج يو شمېر هېوادونه د بېلګې په توګه يادولی شو.
له يوې خوا، يادې نړيوالې مرستې وې او له بلې خوا د افغان چارواکو تېروتنې، چې په پای کې د ببرک

[1] - The Observer, London, April 2, 1989. p.1.
[2] - Yuri Gankovsky, Director of the Afghanistan project of oriental studies.
[3] - interview, Moscow, March 3, 1993.
[4]- بولیټن، ودرولسن، نړیوال مرکز ژمی ۱۹۹۶ – ۱۹۹۷، ۱۳۰ مخ.
[5]- فرهنګ میر محمد صدیق دویم ټوک ۱۶۰ مخ.
[6]- الکساندرلیاخفسکي توفان د افغانستان ۱۹۳ مخ.
[7]- غوربندي عبدالقدوس نګاهي به تاریخ حزب ۹۴ – ۹۵ مخونه.
[8]- بوریس ګروموف ارتش سرخ در افغانستان ۲۴ مخ.
[9]- لیا خفسکي طوفان در افغانستان ۱۹۳ مخ.
[10]- هارسیون ۶۱ مخ.
[11]- سټیو کول ۶۹ مخ.
[12]- Interview, Washington, D.C. April 5, 1991.
[13]- Interview, Islamabad, February 19, 1981.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ